AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

الحاج فیض الله جلیلی

نیویارک، ۲۰۱۲/۰۲/۰۷

بسم الله الرحمن الرحیم

# د افغانستان د قضیی د حل لپاره آساسی فرمول

ګرانو هیوادوالو السلام علیکم ورحمت ا لله و برکاته:
تر ټولو دمخه دالله (ج) د رضا په خاطر، د افغانستان د مظلوم ولس د ټولو هغه مظلومو شهیدانو په یاد او احترام چه د خپل ګران هیواد دآزادئ او د اعلاي کلمت الله په خاطر د بیګانګانو د تجاوز په مقابل کي شهیدان شوي او هغو مظلومو افغانانو ته د احترام په وړاندي کولو سره چي پدې لار کي يي زحمتونه ګاللي او ټپیان شوي دي او د ټولو هغه افغانانو په یاد چه په ډیر مظلومیت سره بې له کومي ګناه شهیدان او معیوب شویدي. الله (ج) ته په ډیري عاجزئ سره سوال کوم چه د افغانستان ټولو مظلومو شهیدانو ته دفردوس جنت ور په برخه کړي او ددوي پاتي فامیلونو، اولادونو او د هیواد ټولو بیوزله خلکو ته دې الله (ج) جمیل صبر او ښه ژوند ورپه برخه کړي. خداي (ج) ته سوال او زاري کوم چه یا ربه ته زموږ بدو اعمالو ته مه ویني بلکه د خپلي لویي، عظمت، مرحمت او مهربانئ له مخي زموږ ګران هیواد افغانستان ته خوشحالي، آرامي او دایمي صلحه راولي. خدایه په افغانستان کي داسي یو کلک اسلامي نظام حاکم کړه چه په ملک کي ټولي بي عدالتئ او ناروواوې له منځه یوسي.
ګرانو هیوادوالو: همدغه د هیواد باتور مجاهدین ؤ چه د خپلو وینو په تویولو سره يي ګران هیواد افغانستان د خارجي متجاوزینو څخه په کراتو کراتو آزاد کړئ او ساتلاي ده. د خارجي متجاوزینو او د هغوي د اجنټانو په مقابل کي جنګیدل او ځان فدا کول د باتورو خلکو کار دئ او کلک عزم غواړي. یو فرانسوي لیکوال ډاکټر فانوس پخپل یو کتاب کي لیکلي دي چي تر ټولو بهتر هغه څوک دي چي د خپل هیواد دآزادئ او استقلال لپاره جنګیږي.
دا باید واضح شي چه په افغانستان باندي د امریکایانو اوسنئ اشغال کوم قانوني شکل نلري. د سپټمبر د یوولسمي نیټي بریدونه یوازې یوه بهانه وه چه د امریکا حکومت ته جوړه شوه. زه پدې باور لرم چي که د سپټمبر پېښه شوي هم نه واي دا حملې کیدونکي وې. ځکه امریکا د طالبانو حکومت نوره نه شو زغملاي اوهم يي غوښتل جي منطقه تر خپل تسلط لاندې راولي.په نظامي لحاظ افغانستان ډیر کمزورئ هیواد دئ. نه یوازې امریکا بلکه د جهان کوم بل هیواد ته هم خطر نه شي پیښولاي. افغانستان نه د امریکا ګاونډي ملک ده او نه د امریکا په شان تکنالوژي او سرمایه لري چي ورته خطر پیښ کړي. د سپټمبر د یوولسمي نیټي په پیښه کي هم کوم افغان نه ؤ او نه څوک ددې ثبوت لري چه هغوي دې په افغانستان کي تربیه شوي وي. د مختلفو خبري رسنیو د معلوماتو له مخي اکثره ددې حمله کوونکو څخه عرب او د امریکا یا اروپا تابعیت لرونکي ؤ. موږ اوس ددې شهیدان یو چي همدا اوس امریکا او ناټو د افغانستان لپاره عسکر او نظامي افسران تربیه کوي. کله چه یو څوک پخپله نظامي زده کړې نلري نور خلک به څنګه تربیه کړي. یو څوک چه پخپله د یوې لقمې ډوډئ لپاره بل ته سوال کوي نو بل ته به څه ورکړي. دا ټولې بهاني دي چه د افغانستان د اشغال لپاره جوړي شوي وې.
د سپټمبر د یوولسمي نیټي حمله کومه نظامي حمله نه وه چه د افغانستان د حکومت له خوا دې شوي وي بلکه هغه د څو تنو له خوا شوي وه چه د هغوي هویت هم په افغانستان پورې آړه نه لري. هغه چا چه دغه حمله يي کړي وه باید هغوي او د هغوي عاملین، کومک کوونکي، او تربیه کوونکي په دقیق ډول پیژندل شوي واي او د بین المللي قوانینو په رڼا کي محکمې ته راوستل شوي واي. بین المللي محکمه ددې لپاره جوړه شوي ده چه بین المللي جنایتکاران محاکمه کړي. په دولتي او جهاني قوانینو کي هیڅوک ددې حق نلري چه څوک دې یو کس بې له محکمې د حکم څخه ووژني او یا د چا کورته داخل شي. محکمې د همدې لپاره دي چه عدالت تآمین کړي.
د ملل متحد د منشور له مخې په افغانستان باندي اوسنئ جنګ ورتپل شوئ او د اشغال په معني دئ او کومه قانوني بڼه نلري. د ملل متحد د منشور دوهمه ماده، څلورم بند هیچا ته اجازه نه ورکوي چه پخپلو بین المللي اړیکو کي د بل مملکت په سیاسي استقلال اود تمامیت ارضي په مقابل کي د قوې او وېري اچوني څخه کار واخلي مګر په هغه صورت کي چي د سیکیوریټي کونسل له خوا ورته اجازه ورکړل شي کوم چه ددې منشور په ۵۱ ماده کي يي ذکر شوئ ده. که څوک غواړي چه د چا په وړاندي د مسلحانه قوې څخه کار واخلي د ملل متحد د منشور د ٤٦ مادي د څلورم بند له مخې د قوې د استعمال پلان باید د آمنیت شورا له خوا جوړ شي.
کله چه په دنیا کي داسي مشکل پیښیږي چه د هغه څخه بین المللي ټکر او شخړې جوړیږي د ملل متحد د منشور د ۳٤ مادې له مخي د ملل متحد د آمنیت شورا و ظیفه لري چه د هغي څیړنه وکړي او معلومه کړي چه آیا ددغې شخړې جریان او یا حالت بین المللي صلحي او آمنیت ته خطر پیښولاي شي کنه؟ همدا رنګه د ملل متحد د منشور د ۳٤ مادې ،د دوهم بند له مخي کله چه پیښه شوي شخړه په داسي حالت کي وي چه بین المللي صلحي او آمنیت ته ضرر پیښوي بیا د


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

آمنیت شورا ددې منشور د ٣٦ مادي له مخې یا پخپله عمل کوي او یا دوي د یوې داسي فیصلې سپارش کوي چه دواړو غاړو ته مناسبه وي.

مونږ وینو چه په افغانستان باندې د حملې په وخت کې د ملل متحد د منشور هیڅ یوه ماده هم د امریکا او یا ناټو د غړو هیوادونو له خوا په نظر کې نده نیول شوي او په ډیر غرور سره یې په ګران افغانستان د افغاني او امریکایي انډیوالانو په مرسته حمله وکړه. باور لرم هغه افغاني او خارجي مشاورین او ډلې چه امریکا ته یې په افغانستان باندې د حملې مشورې ورکړې، پخپله به هم اوس پښیمانه وي. که ډیر ضرر یې عامو افغانانو او افغانستان ته رسیږي خو دغه مشاورین او ډلې هم آرام خوب نلري.

د سپتمبر د یوولسمې نیټې څخه بعد د ملل متحد د آمنیت شورا ١٣٦٨ او ١٣٧٣ ګڼه فیصلې کړې چه په دواړو کې د سپتمبر د یوولسمې نیټې حملې غندل شوي دي خو داسي څه نه لري چه په افغانستان باندې د حملې سبب شي. یو شئ چه سړئ باید ورته متوجه شي هغه داده چه په افغانستان باندې د حملې څخه مخکې د طالبانو د خارجه چارو وزیر مولوي متوکل اعلان وکړ چي اسامه د افغانستان څخه وتلئ ده او دده د سکونت او ځاي په هکله هغوي ته معلومات نشته. او همدارنګه د هغه د ژوند په وروستیو کې هم معلومه شوه چې هغه اسلام آباد ته نږدې پیداشو. بنآ په دواړو صورتونو کې ناټو او امریکا په غلط ځاي حمله کړیده اویوه لویه اشتباه وه چه په نتیجه کې په ټریلیونو ډالر مصرف شوي او په زرګونو امریکایي، د ناټو او افغاني عسکر وژل شوي، زخمیان شوي او په لسګونو زره بې ګناه افغانان پکې شهیدان او زخمیان شول.

که بلې خوا ته وګورو ددنیا ټول مملکتونه د رسمي پروتوکولونو له مخې یو د بل سره راکړه ورکړه او معاملې کوي چې نورو هیوادونو ته د فوځي خلکو لیږل هم په هغه کې شامیلیداي شي. کله چي امریکا و غوښتل په افغانستان حمله وکړي هغه ددا‌سي یوې مرجع سره کوم تړون او یا پروتوکول نلري چي د هغي له مخې ورته اجازه ورکړل شوي وي چه په افغانستان حمله وکړي او یا افغانستان ته داخل شي. کوموافغاني خلکو او ډلو چي د امریکا سره په بن او روم کې غونډې لرلې هغوي هم په قانوني لحاظ ددې جوګه نه ؤ چي داسي یو تړون دې د امریکا سره لاسلیک کړي. او نه لاسلیک شویده. د افغانستان او سنئ حکومت او پارلمان هم کله کله دا ډنډورې غږوي چي د امریکایانو موجودیت باید قانوني شي. دا هم پدې معني ده چي د امریکایانو او نورو خارجي عسکرو موجودیت په افغانستان کې کومه قانوني بڼه نلري. او که یې درلوداي نو دا ډول ویناوې به یې نه کولې.

کله چه د سپتمبر د یوولسمې نیټې واقعه پېښه شوه، طیعآ امریکایان خفه شول او وردردیدل خو خلکو ته په کار وه چه د دردونو باوجود یې هم فکر کړئ واي. امریکا د احساساتو له مخې په افغانستان حمله وکړه او د هغه پروتوکول له مخې چه د ناټو غړي هیوادونه یې پخپلو کې لري د ناټو هیوادونه یې هم په جنګ کې داخل کړل. په هغه وخت کې ډیرئ امریکایانو په افغانستان باندي د حملې ملاتړ کاوه خو قرار قرار دغه ملاتړ کمیږي او د جنګ په خلاف دریږي.

د ٢٠٠٧ عیسوي کال د جون په میاشت کې د یوې امریکایي مؤسسې له خوا، چي پیو ګلوبل اتیتیود پراجیکت Pew Global Attitude Project نومیږي، د عامه خلکو د نظریاتو یوه سروې چي په ٤٧ ملکونو کې شوي وه خپره کړه. د ٣٢ هېوادونو خلکو د ناټو څخه غوښتي ؤ چي ځومره ژر ممکن وي له افغانستان څخه دي خپل فوځونه وباسي. یوازي د اسرائیلو ٥٩٪ او د کینیا ٦٠٪ خلکو په افغانستان کې د ناتو پاته کیدل غوښتل. لیکن هغه سروې چي د ٢٠٠٩ عیسوي کال د جون په میاشت کې د همدغې مؤسسې له خوا شوي وه د ٢٥ هیوادو څخه د ١٨ هیوادو اوسیدونکو د ناټو څخه وغوښتل چه د افغانستان څخه دې خپل عسکر ځومره ژر چه ممکن وي وباسي. یوازي دځلورو هیوادونوخلکو په افغانستان کې د ناتو د عسکرو پاته کیدل بیا غوښتي ؤ چي په هغو کې امریکا ٥٧٪، اسرائیل ٥٩٪، کینیا ٥٦٪، او نایجیریا ٥٢٪ ؤ د همدې سروې له مخې ٦٣ فیصده جرمنیانو، ٦٢ فیصده فرانسویانو، ٥٧ فیصده پولینډیانو، ٥٥ فیصده کاناډایانو، ٥١ فیصده آنګریزانو، ٥٠ فیصده هسپانویانو او ٤٩ فیصده ترکانو افغانستان ته د نورو عسکرو د لیږلو سره مخالفت وکړ.

Today USA د( یو، ایس، اې ټو ډې) د ٢٠٠١١کال د جون د میاشتي د احصایي له مخې ٥٩ ٪ امریکایانو د افغانستان څخه د خپلو عسکرو د ویستلو غوښتنه کړي ده. په داسي حال کې چي د انګس ریډ د سروې له مخې ٦٣٪ جرمنیان او ٦٠٪ انګریزان په افغانستان کې د جنګ خلاف دي اوله افغانستان څخه د خپلو عسکرو د ویستلو غوښتونکي دي.

وایي چي لاس مات شي نو غاړي ته ځي. اوس هر څه چي دي او د هر چا له لاسه چي وي، د افغانستان اشغال قانوني دئ او که غیر قانوني، اوس افغانستان ددې لوې مشکل سره مخامخ ده .ټول افغانان په افغانستان کې د اوسیدو، ژوند کولو، افغانستان ته د خدمت کولو، د آزادئ او خوشحالئ حق لري. افغانستان د چا شخصي کور نده چي بل افغان ته پکې د اوسیدو حق نه ورکوي. ټول افغانان ، که د چا خوښیږي او که یي نه خوښیږي، باید سره کښیني او دا د افغانانو فریضه ده چه ددې مشکل د حل لپاره لارې ولټوي.د افغانستان په شخړه کې ځلور خواوي ډیري مهمي دي چي هغه د امریکا او ناټو، د افغانستان حکومت او ورسره ډلې، طالبان او د افغانستان اسلامي حزب دي. که چیري ددې مسئلې په حل کې ډیره کمزوري ډله هم له سترګو وغورځول شي او په خبرو کې ځاي ورته ورنه کړل شي، که څو ډلې یو توافق ته هم ورسیږي دا مشکل به تر یو ډیر نامعلوم وخته پوري دوام لري. زما په اند که چیري افغانان سره کښیننی ، پوره باور لرم چي بیګانګان به د افغانانو په لاس د نورو افغانانو د وژلو سیل کوي او درد به یې افغانستان او افغانانو ته رسیږي.



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ما د ۲۰۰۹ عیسوي کال په آخر کي د امریکا جمهور رئس بارک اوباما په نوم یو لیک لیږلئ ؤ او په هغه کي مي ورته د افغانستان د قضیي د حل په هکله هم یوه لنډه فرموله لیکلي وه. مګر د وخت او شرایطو سره سم غواړم چه هممغه فارمول د افغانستان د قضیي د حل لپاره د یو څه تعدیلاتو سره په لاندي ډول وړاندي کوم هیله ده چي د افغانستان د آزادئ لپاره به مؤثر واقع شي:

اول- ددې لپاره چي د افغانستان دا اوسنئ شخړه حل شي او په راتلونکي کي د کورنئ جګړې مخه نیولي شوي وي، د افغانستان حکومت او ورسره ډلي، د امریکا او ناټو، د طالبانو اسلامي تحریک او د افغانستان اسلامي حزب باید د یو منځګړي هیئت په موجودیت کي سره کښیني او د قضیي د حل لپاره دې‌لاره ولټوي. د یو حل د تر لاسه کولو وروسته باید دغه ذکرشوي ډلي د جهاني ټولني په موجودیت کي د سولې تړون سره امضا کړي.

دوهم: ددې لپاره چي د افغانستان په راتلونکي کي د کودتاه ګانو او په زور سره د حکومتونود نیولو مخنیوئ وشي، بین المللي جامعه او ملل متحد به ددې تضمین کوي چه په راتلونکي کي به هغه رژیمونه چه په افغانستان کي د کودتاه ګانو او یا زور له مخي قدرت ته رسیږي په رسمیت نه پیژني او بین المللي جامعه بالخصوص ګاونډیان به د افغانستان په داخلي چارو کي لاس نه وهي.

دریم- د افغانستان د ملي او قومي اشخاصو څخه دې داسي یو هیئت جوړ شي چي په هغه کي څوک په افغانستان باندي د شوروي اتحاد په تیري کي او د امریکایي قواؤ په ملګرتیا کي تورن نه وي. خو ددې هیئت غړي باید په حکومت کولو، د افغانستان په دود او د جهان په قوانینو بلد وي. مخکي لدې چي هیئت په کار پیل وکړي هیئت به پخپلو کي سره جرګه شي د صلحي ټول شرایط به په لیکلي ډول مطرح کړي. هر څه چه هیئت کوي او یا هره موضوع چه فیصله کوي باید ولیکل شي. هیئت به د افغانستان د حکومت او د حکومت د مخالفینو څخه وغواړي چه د خبرو لپاره خپل هیئتونه جرګي ته په مساوي ډول معرفي کړي. ددواړو خواؤ غوښتني باید لیکلي وي او د سند په ډول باید وساتل شي. هیئت به درې عمده وظایف لري:

الف- هیئت به د افغانستان ددولت او د دولت د مخالفینو سره تر هغه پوري خبرو ته دوام ورکوي تر څو یوه فیصله وشي. دا خبري به په افغانستان او یا بل داسي یو ځاي کي کیږي چه د ټولو لپاره د آمنیت له لحاظه مصؤن وي.

ب- هیئت به د یو جهاني کنفرانس د جوړیدو غوښتنه وکړي. پدې کنفرانس کي باید د افغانستان په داخلي آمورو کي د خارجي ملکونو او ګاونډیانو د مداخلاتو مخنیوئ وشي او د افغانانو تر منځ د شوي فیصلو تائید به کوي.

ج-د مؤقت حکومت د چاروا د راتلونکي حکومت لپاره به د انتخاباتو څارنه کوي.

څلورم: ددې لپاره چي د صلحي خبري شروع شي اود افغانستان ددولت مخالفین په خبرو کي برخه واخلي ، ددولت ټول مخالفین باید د ملل متحد د تور لست څخه وویستل شي تر څود دولت د مخالفینو ټول مشران او یا ددوي نماینده ګان په خبرو کي برخه واخیستلاي شي. ناټو او د افغانستان دولت باید تظمین ورکړي چه د جرګي د ګډون کوونکو ژوند به تأمین وي.

پنځم- د ټولو خارجي قواؤ بې له کوم قید او شرط څخه په معین وخت کي وتل دي. د خارجي قواؤ په موجودیت کي صلحه هیڅ معني نه لري ځکه چه دا اوسني مشکلات اصلاً د خارجي قواؤ د موجودیت له امله دي. د خارجي قواؤ د وتلو سره سم آمنیتي ارګانونه باید دومره قوي شي چه د آمنیت د ساتلو جوګه وي.

شپږم- د ۱۸ میاشتو لپاره دې یو مؤقت حکومت جوړ شي. کوشش باید وشي چه د حکومت مشر مسلمان، بې طرفه، په دولتي او جهاني چارو بلد او نسبتاً ټولو ذیدخل طرفونو ته د منلو وړوي. ددې لپاره چه په راتلونکي کي یو قوي او ټولو افغانانو او جهان ته د منلو وړ حکومت رامنځته شي ، د مؤقت حکومت مشر او د کابیني غړي به په راتلونکي انتخاباتو کي برخه نه شي اخیستلاي. حکومت اود حکومت مخالفین به هر یو د ۱۵ څخه تر ۲۰ پوري د اشخاصو نومونه د مؤقت حکومت مشر ته ورکوي تر څو د مؤقت حکومت مشر د خپلي کابیني نیمایي غړي ددغو اشخاصو څخه داسي وټاکي چه د کابیني نیم غړي به د مؤقت حکومت د مشر له خوا، د کابیني څلورمه برخه غړي به د دولت د مخالفینو د لست څخه، پاتي څلورمه برخه به ددولت له خوا د نومول شویو کسانو څخه ټاکي. : د مؤقت حکومت د مشر ټاکل د ذیدخل طرفونو او د منځګړي هیئت سره په مشوره کیداي شي او یا منځګړئ هیئت کولاي شي د صلحي د خبرو په وخت کي ورته لاره پیدا کړي.

اووم- مؤقت حکومت به تر یو کال پوري حکومتي چارې سمبالوي او ددوهم کال په شروع کي به د عامو انتخاباتو تیارئ نیسي . د دوهم کال په څلورمه میاشت کي باید انتخابات وشي او ددوهم کال د شپږمي میاشتي په وروستئ ورځ د مؤقت حکومت دوره پاي ته رسیږي او نوئ منتخب حکومت به په کار پیل کوي.

اتم- کله چه منتخب حکومت په کار پیل وکړي، د افغانستان په آساسي قانون کي د تعدیلاتو راوستل به د منتخب حکومت له عمده وظایفو څخه وي. د مؤقت حکومت د جوړیدو سره سم ټول سیاسي بندیان چه ددنیا په هر ګوټ کي وي باید آزاد شي. د مؤقت حکومت د جوړیدو د اولي ورځي سره سم به د صلحي د هیئت سره د ملل متحد او اسلامي هیوادونو د کنفرانس نماینده ګان هم یو ځاي شي تر څو د مؤقت حکومت د فعالیتونو او د انتخاباتو څارنه وکړي. د صلحي د هیئت په شمول ددې ډلي دنده د مؤقت حکومت د پاي ته رسیدو سره سم پاي ته رسیږي.



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

نهم- ددې لپاره چه دولتي کارونه او ملت د يو بل بحران سره مخامخ نه شي او صلح هم پر مخ لاړه شي دا اوسنۍ ملي شورا، چه ولسي جرگه او د مشرانو جرگه دي، پخپل ځاي پاته شي او خپل قانوني وخت بايد پوره کړي. حو د هغه تعداد کسانو په عوض چه د افغانستان د جمهور رئس له خوا مشرانو جرگې ته انتصابي معرفي شوي دي د شورا تر راتلونکي انتخاباتو پورې دې د دولت د مخالفينو نماينده گان مشرانو جرگې ته معرفي شي. کله چي د اوسنۍ جرگي دوره پاي ته رسيږي، ددې کسانو دوره هم پاي ته رسيږي او د بيا انتخاب لپاره به د ملت رايو ته مراجعه کوي. ددې لپاره چي افغانستان د نورو مشکلاتو او جگړو سره مخامخ نه شي جهاني ټولنه بايد د افغانستان د مؤقت او منتخب حکومتونو سره د حکومت په جوړولو، بيا رغونه، زراعت، اقتصاد، تعليم او تربيه، د آمنيتي ارگانونو په تقويه کولو، او د فابريکو په جوړولو کي مرسته وکړي تر څو خلک په کارونو بوخت شي. که چيرته په افغانستان کي بيکاري وجود ولري، افغانستان به بيرته د مشکلاتو په لور ځي.

لسم- د افغانستان د ځينو خلکو او بين المللي ټولني سره دا شک دئ چي که چيرته د ناټو عسکر بهر شي په افغانستان کي به کورني جنگونه شروع شي او دزياتو افغانانو د مرگ سبب به شي. ددې لپاره چي دا تشويش هم رفع شوئ وي، بې ځايه به نه وي چي ددوه کالونو لپاره، چي د مؤقت حکومت ديونيم کال او د منتخب حکومت دشپږ مياشتو لپاره به وي، د لسو څخه تر ۱۵ زرو پورې د اسلامي هيوادونو عسکر چي مصرف به يې د ملل متحد په غاړه وي، افغانستان ته راوستل شي. خو پدې عسکروکي به د افغانستان د گاونډيو هيوادونو عسکر شامل نه وي او د عسکرو اداره او قوماندو به د افغانستان د حکومت په غاړه وي.

يوولسم- ددې لپاره چي په راتلونکي کي د زور او يا کودتاه گانو له لاري د حکومتونو د نيولو مخنيوئ وشي او افغانان هميشه په صلح آميز ډول قدرت ته ورسيږي، ملل متحد او د جهان قوي طاقتونه به ددې تظمين کوي چي داسي حکومتونه به په رسميت نه پيژني کوم چي په افغانستان کي د غير قانوني لارو څخه قدرت ته رسيږي.

نوټ: ما ( الحاج فيض الله جليلي) د هغه استعداد او پوهي سره سم چي الله (ج) ماته راکړي پورته ليکنه مې د آلله تعالي د رضا او د گران هيواد د آزادئ او استقلال په خاطر ترتيب کړيده. هر څه چه ما ليکلي په پوره بي طرفئ او د چا سره بې له کومي مشوري مې ليکلي دي. لوي خداي (ج) ته سوال کوم چي اي زما ربه ته پخپل لوي عظمت او قدرت سره دافغانستان معظله حل کړي او افغانستان ته يوه دايمي خوشحالي ورپه برخه کړي.

آمين يا رب العلمين ط


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ